د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

**ګڼه: 424**

(2 جدی – 8 جدی 1402 هـ ش)

# له نړیوالې ټولنې سره د ا.ا.ا د تعامل څرنګوالی او پر رسمیت پېژندنې یې اغېزې



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- له نړیوالې ټولنې سره د ا.ا.ا د تعامل څرنګوالی او پر رسمیت پېژندنې یې اغېزې سریزه ...............3
- د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې او نړیوالې ټولنې سره د تعامل په اړه فرصتونه ......................5
- د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې او نړیوالې ټولنې سره د تعامل په اړه ستونزې......................7
- پایله ..........................................................................................8
- وړاندیزونه ..........................................................................................9
- مأخذونه:..........................................................................................9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## له نړیوالې ټولنې سره د ا.ا.ا د تعامل څرنګوالی او پر رسمیت پېژندنې یې اغېزې سریزه

د دولتونو رسمیت پېژندنه تر ډېره یو حقوقي بحث دی، کله چې یو نوی دولت رامنځته کېږي او نور دولتونه یې د رسمیت پېژندنې لپاره اقدام کوي، دې ته د دولتونو په رسمیت پېژندنه وایي او کله چې یو نوی حکومت د کودتاه، انقلاب او یا هم په اساسي قانون کې د ټاکلو شوي اصولو پرته رامنځته شي، نو دغه نوی حکومت رسمیت پېژندنې ته اړتیا لري او کله چې د نړۍ دولتونه دغه نوی حکومت په رسمیت وپېژني دې ته د حکومت په رسمیت پېژندنه ویل کېږي. د حکومت رسمیت پېژندنه یو سیاسي بحث او تعامل دی هر هېواد د خپلو ګټو په نظر کې نیولو سره د یو حکومت رسمیت پېژندنې ته اقدام کوي.

په بین المللي حقوقو کې د دولتونو د رسمیت پېژندنې لپاره څرګند معیارونه او شرطونه موجود دي، خو د حکومتونو د رسمیت پېژندنې لپاره منل شوي اصول او معیارونه نشته.

د ۱۹۳۳ز. کال د مونټو ویډیو کنوانسیون ( Montevideo Convention on the Rights and Duties of States ) د دې کنوانسیون په درېیمه، شپږمه او اوومه ماده کې د دولتونو د رسمیت پېژندنې معیارونه روښانه شوي دي چې په څلور ډوله دي: دایمي نفوس، تعریف شوی قلمرو، حکومت او حاکمیت او کله چې دغه شرایط پوره شي، نو یو نوی رامنځته شوی دولت په رسمیت پېژندل کېږي.

د حکومتونو د رسمیت پېژندنې لپاره منل شوي معیارونه په نړیوالو حقوقو کې نشته، خو بیا هم ځینو پوهانو په دې اړه ځینې شرایط او معیارونه ذکر کړي دي چې د دې پوهانو نظریاتو مور په څلور ډوله دکتورینو کې راخلاصه کوو:

**۱: توبار دکتورین** (**TOBAR DOCTRINE**): دغه دکتورین په ۱۹۰۷ز. کال کې د کارلوز توبار له خوا چې د ایکوادور د بهرنیو چارو وزیر و رامنځته شول. دا دکتورین وایي: « No Recognition for Unconstitutional Governments» نوی منځته راغلی حکومت باید هغه وخت د نورو دولتونو له خوا په رسمیت وپېژندل شي کله چې په قانوني بڼه په ځانګړي ډول د نافذ اساسي قانون پر بنسټ رامنځته شوی وي.

**۲: بېټن کورټ دکتورین** (**BETANCOURT DOCTRINE**): دغه دکتورین په ۱۹۵۹ز. کال کې رامنځته شوي دي او وایي: «No Recognition for Military Rules» هغه حکومتونه چې د نظامي کودتاه له لارې منځته راغلي، باید په رسمیت ونه پېژندل شي.

**۳- ستېمسن دکتورین** (**STIMSON DOCTRINE**): دا دکتورین د امریکایي ستېمسن له خوا په ۱۹۳۲ز. کال کې رامنځته شوي دي او ددغو دکتورینو له مخې کله چې یو حکومت د زور له لارې د بل دولت

خاوره له ځان سره یوځای کړي او هغه د خپل دولت برخه وګرځوي، نو په داسې حالت کې نور دولتونه باید دغه حکومت په رسمیت ونه پېژني.

**۴: ایسټراډه دکتورین (ESTRADA DOCTRINE):** دغه دکتورین د مکسیکو د بهرنیو چارو وزیر جینارو ایسټراډه له خوا په ۱۹۳۰ز. کال کې رامنځته شو. د دغو کتورین پربنسټ کله چې نوی حکومت رامنځته کېږي، دولتونه باید رسمیت پېژندنه یې د خپل مثبت یا منفي قضاوت پر بنیاد ونکړي، ځکه دا د هغه دولت د حاکمیت د اصل ماتول او د هغوی په کورنیو چارو کې لاسوهنه ده. د رسمیت پېژندنې لپاره د نړیوالو حقوقو دوه اصله باید په پام کې ونیول شي: لومړی په پریکړو کې د حکومت خپلواکي ( Self-determination) او دویم د هغه حکومت له خوا د نورو دولتونو په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه(Non-intervention)، په دې معنی چې د دې دکتورینو پر بنسټ که د رسمیت پېژندل شوي دولت په داخل کې داسې حکومت رامنځته شي چې هغه په خپلو پریکړو کې خپلواک وي او د نورو دولتونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي، نو هغه باید په رسمیت وپېژندل شي. له دې بحث موخه داده چې اوسنی افغان حکومت کولای شي د ایسټراډه پر دکتورینو استناد وکړي او له نړیوالو څخه د همدغه دکتورینو په رڼا کې د رسمیت پېژندنې غوښتنه وکړي.

د پورتنیو دکتورینو سربېره د حکومت بهرنۍ او داخلي سیاست هم په رسمیت پېژندنه کې رول لري. که بهرنی سیاست داسې وي چې د نورو دولتونو ملي ګټو ته ګواښ وي، نو نور دولتونه د رسمیت پېژندنې  پرمهال له احتیاط څخه کار اخلي، له نېکه مرغه د اسلامي امارت بهرنی سیاست اقتصادي محوره او بې‌طرفه دی چې دا ډول بهرنی سیاست تر ډېره د نورو دولتونو په ګټه او کولای شي چې د رسمیت پېژندنې په لاره کې فرصتونه رامنځته کړي.

همدارنګه داخلي سیاست چې تر ډېره په بشري حقوقو او د قوانینو د پلي کېدو په طرز راڅرخي، که په دې برخه کې هم له ښه تعامل څخه کار وانخیستل شي، نو کېدای شي چې نور دولتونه د رسمیت پېژندنه په برخه کې  له احتیاط څخه کار واخلي.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند عبدالقهار بلخي په وینا تراوسه ایران، ترکیې، پاکستان، روسیې، چین، مالیزیا، قرغزستان، ازبکستان، ترکمنستان، قطر او قزاقستان هېوادونو اسلامي امارت ته په دغه خاوره کې افغان سفارتونه او قونسلګرۍ سپارلې دي چې نږدې  یوولس هېوادونه کېږي. پوښتنه داده چې پورتنیو هېوادونو په رسمي ډول د اسلامي امارت د رسمیت پېژندلو اعلامیه نه ده خپره کړې، خو بیا یې هم سفارتونه ورته سپارلي، ایا د سفارتونو سپارل د رسمیت پېژندنې په معنی ده او که نه؟

د دې پوښتنې په ځواب کې ویلای شو چې رسمیت پېژندنه په دوه ډوله ده:

الف: ډیژور (دایمي یا صریحه) رسمیت پېژندنه: کله چې یو دولت د بل دولت حکومت په صریح او ښکاره ډول په رسمیت وپېژني دې  ته صریحه رسمیت پېژندنه ویل کېږي چې معمولاً په دوه ډوله ترسره کېږي: د یوې



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

اعلامیې د خپرولو له لارې اعلان کول چې حکومت په رسمیت پېژني او یا هم د یو تړون له لارې یو دولت له بل دولت سره هوکړه کوي چې په رسمیت یې پېژني.

ب: ډیفکټو (مؤقتي یا ضمني) رسمیت پېژندنه: هغه رسمیت پېژندنه ده چې یو دولت په ښکاره ډول یو نوی حکومت په رسمیت نه پېژني، خو ځینې داسې اعمال ترسره کوي چې هغه د رسمیت پېژندنې معنی ورکوي چې دې ته ضمني رسمیت پېژندنه ویل کېږي. لکه: د سیاسي مذاکراتو ترسره کول، د سیاسي تړونونو لاسلیکول او یا هم د سفارتونو پرانېستل چې وروسته عمل یې تر نورو ډېر قوي دلیل دی پر ضمني رسمیت پېژندنې.

## د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې او نړیوالې ټولنې سره د تعامل په اړه فرصتونه

د ملګرو ملتونو عمومي سرمنشي انتونیو ګوترېش، له څو میاشتو څېړنو او ارزونو وروسته د افغانستان په اړه د خپل ځانګړي استازي پایله له وړاندیزونو سره مل د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته وړاندې کړه، چې رسنیو د ګوترېش دغه طرحه د ملګرو ملتونو له لوري له روان ناورین څخه د افغانستان د ایستلو د طرحې په نوم یاده کړه. پوښتنه دا ده چې ولې نړیواله ټولنه له اسلامي امارت سره پر تعامل ټینګار کوي؟ او د رسمیت پېژندنې پر وړاندې کومې ستونزې پرتې دي؟ دا او یو شمېر نورې پوښتنې به د لیکنې په اوږدو کې ځواب شي.

په افغانستان کې د متحده ایالاتو له ماتې وروسته اسلامي امارت بیاځلي واک ته ورسېد چې تر دې دمه د هېڅ یو هېواد له لوري په رسمیت نه دی پېژندل شوی. اسلامي امارت د ځمکنۍ بشپړتیا د خوندیتوب ترڅنګ هڅه کوي په هېواد کې د بېلابېلو پروژو د تطبیق له لارې اقتصادي پرمختګ تجربه کړي، چې د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو ترڅنګ به د بین المللي ټولنې له لوري په رسمیت وپېژندل شي. لاندې یو شمېر هغو مواردو ته اشاره کوو چې اسلامي امارت یې خپله لاسته راوړنه ګڼي او له مخې یې بین المللي ټولنه تعامل ته زړه ښه کوي.

### 1. پیاوړی مرکزي حکومت

د تاریخ په اوږدو کې، په افغانستان کې هغه نظامونه چې پیاوړی مرکزي حکومت یې درلود، د ځمکنۍ بشپړتیا د خوندیتوب ترڅنګ بریالي تر سترګو شوي دي. اسلامي امارت د هېواد پر ټول قلمرو واک لري او محلي اداري د مرکزي حکومت اطاعت کوي چې امنیت او ثبات ته یې لار پرانېستې ده.

### 2. د امنیت او ثبات ټینګښت

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د تاریخ په اوږدو کې، د سیمې او نړۍ هر ستر ښکېلاک خپلو شومو موخو ته د رسېدو په خاطر کوچنی او یا له اقتصادي اړخه کمزوري هېوادونه ښکار کړي دي. د نړۍ په دغسې شرایطو کې چې تر ډېره بین المللي نورمونه او اصول په پام کې نه نیول کېږي، په لوی لاس د ځینو هېوادونو بېطرفي نقض کېږي او د سترو قدرتونو تر یرغل لاندې راځي. افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د تاریخ په اوږدو کې د خپل جیوپولیټیک موقعیت له امله قرباني شوی. په تېرو څه باندې څلور لسیزو کې، په افغانستان کې د ګاونډیو، سیمې او نړیوالو لاسوهنې او په هېواد کې د کمزوري مرکزي حکومت له امله ناامني او بې ثباتي پراخه شوې وه، چې پر اقتصادي پرمختګ او د بهرنۍ پانګونې پر جلب یې ناوړې اغېزې ښندلې. په افغانستان کې د اسلامي امارت بیاځلي واک ته رسېدو سره په افغانستان کې امنیت او ثبات ټینګ شوی او په هېواد کې د بهرنۍ پانګونې لپوالتیا هم ډېره شوې چې له امله یې کورنی اقتصادي پرمختګ مخ په غوړېدو دی.

### 3. ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو سره د اړیکو پراختیا

په افغانستان کې د متحده ایالاتو له ماتې وروسته، افغانستان د سیمه ییزتوب لوري ته روان دی او د پخوا په پرتله له ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو سره اړیکې پراخې شوې دي. که څه هم بهرنیو هېوادونو تر دې دمه اسلامي امارت په رسمیت نه دی پېژندلی، خو غیر رسمي سیاسي او اقتصادي اړیکې د پراخېدو په حال کې دي او په کابل کې د ګاونډیو او ځینو سیمه ییزو هېوادونو دېپلوماتېکې نمایندګۍ هم پرانېستې دي. د اړیکو دغه پراختیا کولای شي په افغانستان کې د سیاسي ثبات ټینګښت او په هېواد او سیمه کې اقتصادي پرمختګ رامنځته کړي.

### 4. د نشه يي توکو د کښت او تولید کمښت

تېرو څلور لسیزو جګړو د کډوالۍ ترڅنګ په افغانستان کې د مخدره توکو کښت او تولید ته هم زمینه برابره کړې وه. د مخدره توکو په تولید او قاچاق کې نه یوازې افغانان، بلکې د سیمې او نړۍ مافیا هم لاس لري، چې ګټه یې تر ډېره له افغانستان څخه بهر د نړیوالې مافیا جیبونو ته ورځي. د ځینو راپورونو پر بنسټ، پخوا افغانستان یوازې د نړۍ ۹۰ سلنه د مخدره توکو د تولید اړتیا پوره کوله چې د اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته اوسمهال په هېواد کې د مخدره توکو تولید ۹۵ سلنه راکم شوی دی.

### 5. سیمه ییزې اقتصادي پروژې او د افغانۍ ثبات

په کور دننه د ملي او همدارنګه سیمه ییزو اقتصادي پروژو تطبیق به په هېواد کې اقتصادي پرمختګ او سیمه ییز ثبات ته لار پرانېزي. قوش تېپه یوه له هغو ملي پروژو ده چې په سیمه کې بې سارې ده او په نږدې راتلونکې کې به هېواد د کرهنې په سکټور کې پر خپل ځان بسیا کړي. ورته مهال، د هېواد په ځینو سیمو کې د ورو او سترو پروژو لکه لویو لارو رغول، رېل پټلۍ جوړول او د اوبو بندونو جوړول، هغه څه دي چې د

اقتصادي پرمختګ او سوکالۍ پر لور یې د افغانانو هیلې راټوکولې دي. د یادونې وړ ده چې د افغان حکومت له لوري د سیمه ییزو پروژو لکه تاپي، کاسا زر او همدارنګه د کمربند او لارې نوښت د تطبیق لپاره چمتووالی، له ګاونډیو او سیمې سره د سیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیا لبوالتیا په ډاګه کوي، چې کولای شي د رسمیت لپاره لار پرانیزي.

که څه هم د اسلامي امارت بیاځلي واک ته رسېدو وروسته، په لومړیو کې افغانۍ خپل ثبات له لاسه ورکړی و، خو د وخت په تېرېدو سره د څانګړو کړنلارو پر مټ افغانۍ ورو ورو بېرته د ثبات پر لور روانه ده، چې د خوراکي توکو د بیو په ټیټوالي کې ښکاره بدلون تر سترګو کېږي. د بېلګې په توګه، د نړیوال بانک د ۲۰۲۳ ز.کال جون میاشتې راپور پر بنسټ، افغانۍ د امریکایي ډالرو پر وړاندې ۳,۸ سلنه، د یورو پر وړاندې ۲,۹ سلنه، د هندي روپیو پر وړاندې ۰,۵ سلنه، د پاکستاني روپیو پر وړاندې ۲۰,٦ سلنه او د ایراني تومنو پر وړاندې ۴۱,۲ سلنه ارزښت ساتلی دی.

د پورته لاسته راوړنو ترڅنګ، اسلامي امارت دي هڅه وکړي د سترو سیمه ییزو قدرتونو لکه چین په مرسته د افغانستان په اړه سیمه ییزه اجماع رامنځته کړي، له دې لارې به افغانستان له بین المللي ټولنې سره خپلې اړیکې لاپسې پراخې کړي او د سیاسي او اقتصادي ثبات د ټینګښت په ترڅ کې به بهرنۍ پانګونه راجلب شي. د افغانستان منزوي کول، کولای شي چې خپله د افغانستان او سیمې لپاره بېلابېل ګواښونه رامنځته کړي، له همدې امله بین المللي ټولنه دې له افغانستان سره تعامل وکړي او افغانستان هم په خپل وار اړ دی چې د بین المللي ټولنې مشروع غوښتنې ومنې.

## د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې او نړیوالې ټولنې سره د تعامل په اړه ستونزې

د امریکا متحده ایالاتو پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ د واک پر مهال، په ۲۰۱۸ ز.کال کې د وخت افغان حکومت له ګډون پرته، د قطر په دوحه کې د امریکایي او افغان طالبانو ترمنځ مستقیم مذاکرات پیل شول، چې د ۲۰۲۰ ز.کال په فبروري کې د امریکایي استازي زلمی خلیلزاد او د طالبانو د استازي ملا عبدالغني برادر ترمنځ د دوحې تړون لاسلیک شو. د ۲۰۲۱ ز.کال د اګست میاشتې پر ۱۵مه، د اسلامي امارت واک ته له رسېدو وروسته، امریکایي او افغان لوري یو بل پر دې تورنوي چې د دوحې هوکړه په بشپړ ډول نه پلي کوي او له امله یې بې باوري رامنځته شوې. امریکا او ملګري یې د اسلامي امارت په اړه په درېیو مسایلو د بشر حقونو رعایت، د ټولګډونه حکومت رامنځته کول او د امریکا په لېست کې له نړیوالو ترهګرو ډلو سره د طالبانو د اړیکو په پرې کولو باندې ټینګار کوي. روسیه هم په خپل وار د ټولګډونه حکومت غوښتنه کوي او چین بیا پورته مسایل د افغان حکومت کورنې مسایل ګڼي او ټینګار کوي چې اسلامي امارت دې د نړیوالو اندېښنې او غوښتنې په پام کې ونیسي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په افغانستان کې د متحده ایالاتو له پوځي ماتې وروسته، چین او روسیه په افغانستان کې ښکېل شوي او د پام وړ نفوذ یې پراخ شوی دی، خو دا چې روسیه د اوکراین په جګړه کې ښکېله ده، هغسې چې اړتیا ده، نه شي کولای د افغانستان په اقتصادي بیارغونه کې مرسته وکړي.

د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په اړه دوه بنسټیز خنډونه شته، لومړی داخلي او دویم یې بهرنی اړخ لري.

لومړی، له شپړم ټولګي څخه پورته د نجونو پر مخ د ښوونځیو او پوهنتونونو بندې دروازې دي. د نجونو پر مخ د ښوونځیو او پوهنتون دروازو پرانېستل او همدارنګه په دولتي او خصوصي ادارو کې د ښځو د کار په اړه د محدودیتونو له منځه وړل، نه یوازې د بین المللي ټولنې غوښتنه ده، بلکې په لومړي سر کې خپله د افغانانو غوښتنه ده. که د افغانستان اسلامي امارت د افغانانو او بین المللي ټولنې دغه غوښتنه ومني، ښکاره ده چې دا د اسلامي امارت په ښې حکومتولۍ دلالت کوي او کېدای شي چې د رسمیت پېژندنې لپاره دروازې پرانېزي؛ خو اندېښنه دا ده چې که افغان حکومت د نجونو پر مخ د ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې پرانېزي، بیا هم کېدای شي اسلامي امارت په لنډه موده کې په رسمیت ونه پېژندل شي، ځکه د رسمیت پېژندنې پر وړاندېستره ننګونه خپله د امریکا متحده ایالات دي، چې له امله یې ګاونډي او د سیمې هېوادونه د رسمیت پېژندنې په اړه ګام نه پورته کوي.

دویم خنډ خپله د امریکا متحده ایالات دي. د افغانستان اسلامي امارت او د امریکا متحده ایالات یو بل د دوحې تړون په نه تطبیق تورنوي، چې له امله یې د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې چارې ټکنۍ شوې دي. اسلامي امارت ته په کار ده چې د ملي ګټو په چوکاټ کې د امریکا متحده ایالات او ملګرو سره تعامل وکړي. له بله اړخه، د سیمې هېوادونه لکه روسیه د افغانستان اوسني امنیتي وضعیت په اړه اندېښنې لري، چې اړتیا ده دواړه غاړې د مېز پر سر د خبرو له لارې یو بل ته ډاډ ورکړي. له بل لوري، چین د افغانستان پر اوږدمهال ثبات باور نه لري، چې له امله یې پانګونې ته هم زړه نه ښه کوي؛ خو هغه څه چې له وضعیت څرګندېږي هغه دا چې د چین حکومت اوس هم د امریکا متحده ایالاتو او اسلامي امارت اړیکو ته د شک په سترګه ګوري او ګومان کوي چې د پردې تر شا ځینې ناڅرګند مسایل شته. نو اړتیا ده چې د افغانستان اسلامي امارت د ملي ګټو په چوکاټ کې له ځینو هېوادونو سره خپلې اړیکې ښکاره تعریف کړي، ترڅو د ابهام حالت له منځه لاړ شي.

## پایله

د دولتونو د رسمیت پېژندنې لپاره نړیوال حقوقي معیارونه شته، خو د حکومتونو رسمیت پېژندنه یوه سیاسي پروسه ده او هر هېواد خپلو ګټو ته په کتو د یو نوي حکومت رسمیت پېژندلو ته اقدام کوي.

پیاوړي مرکزي حکومت، د امنیت او ثبات ټینګښت، د نشه یي توک دکښت او تولید کمښت، سیمه ییزې اقتصادي پروژې او له ګاونډیو او سیمه له هېوادونو سره د اړیکو پراختیا هغه څه دي چې افغانستان نړیوالې ټولنې سره د تعامل لپاره مقدمه او لاسته راوړنې ګڼې، خو په داخل کې د نجونو د تعلیم مخنیوی، د ښځو کار او ټولشموله حکومت هغه ستونزې دي چې د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنه دروازه یې تړلې دی او نړیواله ټولنه له تعامل څخه راګرځوي.

## وړاندیزونه

۱- اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د نجونو د تعلیم لپاره ژر تر ژره طرحه نهایي او د شرعیت په رڼا کې د ښځو د کار او تعلیم دروازه پرانیزي تر څو له یوې خوا نړیوالې ټولنې سره د تعامل دروازه پرانېستل شي او له بلې خوا په رسمیت وپېژندل شي.

۲- د ګاونډیو او سیمې له هېوادونو سره د خبرو اترو له لارې د څینو ستونزو حلول تر څو د دوی له لارې د نورې نړۍ سره د تعامل دروازه خلاصه شي.**پای**

## مأخذونه:

[1] Montevideo Convention on the Rights and Duties of States, Dec 26, 1933.
[1] (…), Doctrines for state recognition of government, eBooksheir.org, Access link: Doctrines for state recognition of government | eBook (sheir.org)
[1] (…), Estrada Doctrine, sensagent dictionary, Access link: Estrada Doctrine : definition of Estrada Doctrine and synonyms of Estrada Doctrine (English) (sensagent.com)
[1] Iran Hands Over Afghan Embassy in Tehran to Taliban, United Against Nuclear Iran, Feb 2023.
[1] بیګدلي، محمدرضا ضیایي. (۱۳۸۷ ل ). حقوق بین الملل عمومي. تهران: ګنج دانش. چاپ سي و سوم.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000